پوهنوال ډاکټر نظرمحمد سلطانزی ځدراڼ

۲۰۲۴/۰۴/۰۵

# د ارواښاد ډاکتر کبیر ستوري د اتلسم تلین یاد

## موږ د توري او جهاد خلک ډېرښه پېژنو، خو د علم او قلم خاوندان لږ پېژنو

د مځکې پر مخ ټول ولسونه دخپلو وتلو هیوادوالو په برياو وياړي، هغوي نازوی اوتاريخپوهان هغه دتاریخ پاڼوته رسوي، ترڅو دهيواد راتلونکي نسلونه دخپل هيواد دتولنيز،علمي اوفرهنگی برياواودهغوي له قهرمانانونه پوره خبر ووسي.

دعلمی ،فرهنگي اوادبی شخصيتونونازول همدارنگه د تاريخي وياړونو اوتاريخي ارزښتونوساتل یوه کړنلاره ده چي له بده مرغه لکه څنگه چي پکار ده په پښتنوکي يي هغه شان څرک نه ليدل کيږي .
دايوه پوښتنه ده چي ښايي موږ ټول يي په ذهن کي ولرو او کله نا کله خپل شاوخوا ته هم وگورو، چي زموږ ژوندي اتلان (قهرمانان) په کي څوک دي او د مېړاني او قهرمانی معيار لکه څنگه چي موږ ټول باور لرو يوازې د جگړو گټل نه، بلکي په نورو برخو کي هم ښايي داسي کسان وي، چي ربښتيني او د وطن او ولس لپاره يي خدمتونه کړي وي او ملي ارزښتونه يي خوندي ساتلي وي.
دهيواد اوپه نړيواله کچه يوه داسي نه هيريدونکي څېره ارواښاد ډاکترکبيرستوری وو . دومره په ډاډ سره ويلای شم چي کبير ستوری به تل د اصيلو،وطنپالو فرهنگي پښتنو په زړونو کي خاص ځای لري
زه د پښتنو ټولنيز ولسوليز گوند پخواني مشر او بنسټ ايښودونکي (مؤسس) ډاکتر ستوري د يوه مخلص ملگري په توگه خپل ځان پوروړی گڼم ، چي د هغه په هکله ځوان نسل ته نه هيريدونکي او ربښتوني مالومات وړاندي کړم او پښتو ژبي ته يي بې ساری خدمت، د تاريخ پاڼو ته وسپارم
زه له کوچنيوالي راپېڅوا د ستوري ملگری وم او خورا ښه يي پېژنم, پر ملگرتيا يي وياړم
ډاکتر ستوری د رحمن بابا په ليسه کي زماسره يو ځای زده کړې کړي دي په درسونو کي ډېر لايق, زحمت کش او باديسپلين شاگرد وو او په ملگرتيا کي ډېر کلک صادق او وفادار شخصيت وو .
د خپل لياقت په اساس زما سره يوځای د لوړو زده کړو په موخه المان ته لاړ او د ساه پوهني (ارواپوهنی) په څانگه کي يې په اعلی درجه ډيپلوم او بيا وروسته ډاکتري ترلاسه کړه .
زه لا تنکی ځوان وم, چي د رحمن بابا ليسي په لسم ټولگي کي مي درس لوستلو، خو کله به چي ښار ته راغلم نو خامخا به د کابل کتابتون ته يوځل ورتللم .
په دې ترڅ کي به ډېر خواشيني شوم چي, د پښتو ژبي کتابونه به زما نه ترسترگو کيدل. په داسي حال کي چي په نورو ژبو لکه دري ، عربي ،انگليسي او فرانسوي ژبه پريمانه کتابونه موجود وو. ماته به تل دا پوښتنه پيدا کيده چي ولي په پښتو ژبه کي دومره لږ او يا بيخي کتابونه نه شته ؟
ولي زموږ قوم، وطن او ژبه دومره پاتي ده؟
د دې وروسته پاتي والي سببونه (علتونه) څه دي؟ او له کومو لارو کولی شو چي خپل قوم، وطن او مورنی ژبه پښتو د دې حالت څخه راوباسو او د نورو پرمختللو قومونو په ليکه کي ودرېږو او د دوی سيالان شو

په خپلو سترگو دغه ډول ليدلي حال زه دومره وځورولم چي ماپه همغه وخت کي دځان سره پريکړه وکړه, چي د زده کړو (تحصيل) څخه وروسته به زما اړينه دنده دا وي, چي په پښتو ژبه مسلکي پوهنيز (علمي) کتابونه وليکم که موږ د پښتو ژبي لرغوني تاريخ ته پام وکړو, نو څرگنديږي چي په مسلکي برخه کي په پښتو ژبه کتابونه د نورو ژبو په پرتله د هيڅ برابر دي او يا خو ډير لږ دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

نن ورځ په ټوله نړۍ کې له شپېته ملیونو څخه زیات پښتانه ژوند کوي. یوازې په کوزه پښتونخوا کې له دېرش ملیونه نه زیات پښتانه میشت دي
په افغانستان کې د وګړو شمېر ترځلوېښت ملیونه زیات اټکل کیږي چې شل دیرش ملیونه یې پښتانه دي.
ددغه شمېرنې په پام کې نیولو سره اروابناد ډاکتر کبیر ستوري، اروابناد پوهاند ډاکټر نوراحمد میرازي، عبدالروف خپلواک او زما په شمول نورو ملګرو د دولت څخه کلکه غوښتنه وکړه, چې په هیواد کې د پښتنو ژبه پرته له خنډ او ځنډ د افغانستان د غوڅ ډېره کې (قاطع اکثریت) ژبې په توګه د نړیوالو منل شوو ډیموکراتیکو پرنسیپونو پر بنسټ په ټولو ښوونځیو، دفترونو، عالي موسسساتو او سفارتونو کې د لومړۍ رسمي او ملي ژبې په توګه ومنل شي او وکارول شي.د هیواد هر چاروکی ترهغه پورې ونه ګومارل شي, ترڅو چې دواړه رسمي ژبې یاني پښتو او دري یې زده نه وي .
موږ دواړه سره په یوه خوله وو چې د هیواد اساسی قانون او د یونسکو د۱۹۹۹زکال د پریکړې پر بنسټ د هیواد په پوهنتونو او ښوونځیو کې د ډېره کی (اکثریت) قام ژبه "پښتو ژبه" تدریس شي. دري ژبه د دویمي رسمي ژبې په توګه ځای ورکړل شي.

مونږ دواړه په هډ کلک سوچه پښتانه خدای پیداکړي یو, د خوشحال خټک او رحمان بابا فلسفي شاګردان اوپلویان یو او د ځا خبره په یو دسترخوان مو کچالو سره خوړلي دي د ساینس په څانګو کې مو هم ګڼ شمیر کتابونه لیکلی او چاپ شوي دي. دغه راز په جرمني کې د افغاني محصلانو لومړی اتحادیه مو د نورو ملګرو په ملتیا په ۱۹۶۵م کال کې جوړه کړه. وروسته په ګڼ شمیر کولتوري اتحادیو کې مو په ګډه سره برخه اخیستې ده
تاریخي تجربو ښوولې ده چې په ولس کې د ګوتو په شمیر کسان ډګر ته رادانګي او د خپل قوم لپاره ځانونه قربان کوي. الفت صیب وایي:

## میندې راوړي ډېرزامن ډېراولادونه
## یویا دوه پکې افلاطون یا سکندر شي

زمایه اند دپښتوژبې په لاره کې د ډاکټر کبیرستوری مبارزه اوجهاد داسلام اواساسي قانون په چوکاټ کې ترسره کیږي اوپه شریعت کې ورته دحق اوباطل جګړه وایي. داځکه چې کبیر ستوری داسلام او دپښتون ولس دحق په لار روان وو . لوی څښتن تعالی (ج) د قوم ژبې ته غټ اهمیت ورکړی دی د ژبې په اړوند په قران شریف کې الله تعالی فرمایي :
سور ت لا ا براهیم ٤ آیت شریف
ژباړه :- او نه دی لیږلی موږ هیڅ رسول مګرخو په ژبه دقوم دده چې بیان کړي دوی ته امر او نهي دالله
لو ی څښتن تعالی په بل ځا ی کې ژبه او شونډې په مهمونعمتو نو کې یاد کړي دي. نو زما په فکر سره چې څوک د لوی څښتن تعالی امر پلی کوي نو دا هم د جهاد یوه بنه ده، چې د پښتون قوم طبیعي حق پر ځای کړي او پښتوژبې ته هراړخیز خدمت وکړي.
همدغه شان د اسلام مبارک دین دلارښوونوسره سم دخپلې مورنی ژبې پالل اوعلمي کول دیوه قوم او ملت نه یواځې طبیعي حق، بلکې مهمه فریضه او دنده ګڼل کیږي، چې په ورځني ژوند کې یې ترسره کړي.
سورت القصص ٦٧آیت شریف
ژباړه : او مه هیروه برخه خپله څه شی چې دتا په نصیب شوېدې لکه مال اومورنۍژبه اونور ( په دې نړۍ کې او مرسته کوه ) له بندګانو دالله سره لکه چې احسان کړی دی الله له تاسره
دا په دې مانا چې ژبه هم دلوی څښتن (ج) دډیرونعمتونوڅخه یومهم او سترنعمت دی چې دبنده په نصیب شوی دی.
له پورته یادشوي مبارک ایات شریف څخه دانتیجه هم اخلو چې پخپله ژبه د وګړو تر منځ نه یواځې دخبرو اترو اودپوهیدلویوه وسیله ده، بلکې د یوه قوم د پیدایښت سره تړلی طبیعي بشري حق اوځانګړی خدایي نصیب اویومنل شوی نعمت ګڼل کیږي.
نو له دې کبله دایوه مشروع کړنلاره ده، چې دغه نصیب یا برخه باید په ملي اونړیواله کچه وروزل شي او ورڅخه دفاع او ملا تړ وشي.
هرڅوک چې په مورنۍ ژبه ویل، لیکل اولوستل نه کوي،نو دا مانا لري چې د موراحترام نه کوي او دا یوه ګناه ده، نو دکبیر ستوري مبارزه به دهغه په پلویانوکې ترهغه پورې دوام ولري ،ترڅو چې دهیوادپه ټولوپوهنتونونواو رسمي دفترونوکې پښتوژبه وکارول شي
بلخوادقرآن شریف لوستل سنت دي خوعملي کول یې فرض دي
په دې ماناچې ډاکټر ستوري دالله ج هغه امرپرځای کړی دی چې په هر پښتون باندې فرض شوی دی، نوله دې کبله اروابنادستوري ته ددې فرهنګي خدمت په بدل کې دلوی څښتن څخه په بله دنیاکې ثوابونه اجرونه غواړم


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ډاکټر کبیر ستوري د اسلامي علم ترڅنګ  د ساینس، سیاست او ټولنیز علم ته زور ورکړی و
هغه به ویل چي په حدیث شریف کي راغلي دي, چي د عالم او د عابد ترمنځ توپیر د څوارلسمي سپوږمی او د ستورو ترمنځ د رڼا توپیر ته ورته دی, ځکه عابد د خپل ځان لپاره عبادت کوي او عالم بشر ته د خدمت په موخه کارکوي
اروابنا ستوري به د کوزي پښتونخوا ملګرو ته ویل ، چي  پښتو ژبه پرمخ بیوول، علمي کول د ځوانانو رسالت دی.
ژبه ملي امانت دی، ما دا دی تر تاسي پوري راوړسوله . ښه مي راوړسوله  که بده ، سمه مي راوړسوله که ناسمه ، دابه  زمونږ راتلونکي  نسلونه قضاوت کوي . خو اوس وار ستاسي دی، چي له دغه امانت سره بې پروايي ونه شي  پاینت ته يې صدمه ونه رسيږي, لوبې ورسره ونه شي.
د ډاکټر ستوري  پر ژوند او پښتو ژبې ته د هغه خدمت په تړاو ډیر څه لیکلو ته اړتیا ده ، خو اوس زما د زړه زور هم اوبه شوی دی او عمرمي له اتیا کالو څخه  اووښتی دی,  نو په لنډه  توګه به  د  هغه  کرکټر، پرنسيپونه، میلمه پالني  او  پښتونولي ته ځغلنده نظر واچوم:

١   -ستوري  یودروند ملي سپيڅلی شخصیت وو . په وطن اوخپلواکی مین انسان وو.
٢ -الله ج ورته ځانګړي ژبه اوکلام په نصیب کړي وه.
٣  - د نرم او لطیف مزاج ،د نیکو او لوړو اخلاقو خاوندوو
٤ -په ذهن او روان کي دخپلواکی ،دیموکراسی‌اووطنپالی‌ملي احساس پوخ شوی وو
٥ -په حدیث شریف کي راغلي دي چي  ښه انسان هغه څوکېدای شي، چي بل انسان ته بيګټه ورسيږي. ستوری د ټل

د خپل ولس په چوپړ کي وو اود خپل  وس سره سم  يي نوروافغانانوته ګټه رسیدلي ده
زړه سوان اوسوله غوښتونکی شخص وو، دملي  روحی  پالونکی  وو . په ده کي دمشرتوب  هراړخیز ټول خواص  لیدل کیدل.

**هغه زړه به له طوفانه په امان وي**
**چي کشتی غوندي دخلقو بار بردار شي**
(رحمن بابا)

٦ -ستوري به  په علمي کنفرانسونو، ټولنیزو غونډو،دحجري په مجلسونو کي په ډیره مینه سره ګډون کولو.  په خپله يي هم بي شماره غونډي جوړي کړي دي. . درسنیوله لاري يي خپل سیاسي ،فرهنګي نظریه په ډاګه اعلان کړي ده . علم ،هنر،حکمت اوکمال يي خوښيده اودېردولت اوپيسوهوس يي نه درلود

**دنيا دار که مستغني په سيم و زر دی**
**هنرمند و سره  ګنج د خپل هنر دی**
رحمن بابا

٧- داسلام بنسټيز آرونو په  عملي کولوکي د مشرانو احترام  کولو اوپه کشرانوباندي مهرباني اورحم کولو .
٨ -په ملګرتیاکي ډیر وفادار او په  وعده  ټينګ سړی وو ،خورا ننګيالی خوش طبیعته اوصادق سپيڅلی افغان وو.
دخبروپر ځای يي کړه وړه خوښيده ، دشعارورکولوپلوی نه وو، عملي مبارز وو.
٩-سپين سپيڅلي سړي وو ،شف شف يي نه کولوسپيني خبري يي کولي ، ټګی برګي يي زده نه وه .  د هر چا سره  يي طبيعت  نه  لګيده .
عبدالرحمن بابا وايي:

**خدایه څه شول هغه ښکلي ښکلي خلک**
**په ظاهر په باطن سپين سپيڅلي خلک**

**هيڅ خندا مي له دي خلکو سره نشي**
**ژاړ وي مي هغه تللي تللي خلک**

**نه پوهيږم چي دوی کومي خواته ولاړل**
**ليدی نه شی هغه ما ليدلي خلک**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

۱۰-ملي ګټو ته ژمن شخصيت وو، دهيواد دپرمختګ ،ترقی اوځلانده برخليک لپاره يې پرلپسي هلي ځلي کړې دي . نوموړي کړنلاره به يې په ډيرډقت ،حوصله او ژور فکرسره ترسره کوله .
۱۱ -ميلمه پال ، ننګيالی ، رښتونی اود ډګرسړی وو. سپيڼي خبرې يې کولې .خودسياسي بحث په وخت کي به دخپل هدف څخه چاته هيڅ نه تيريده ،چې داهم ديوه ځيرړ پښتون ځانګړی خواص ګڼل کيږی .
۱۲ -خپلواک فکر يې لرلو او د نورو سره په ټولنه کې دمساوي حقوق غوښتنه کوله. خپل کلچر او دين باندي کلک ولاړوو
۱۳ -دهرچاپه هلکه ښه نيت درلود اونيکخواه سړی وو . دخوشحال خان خټک لاندي شعر دده په هکله صدق کوي

**چي دخلکونيکخواهي لري په زړه کي**
**مبارک شه بادشاهي لري په زړه کي.**

د کبيرستوري فلسفي ارزښت
د اروابښاد ستوري فکر،فلسفه او کړنلاره که څه هم يو کوچنی ګام دی, خو دافغان ولس لپاره يو سترګام دی زماپه آند د ستوري دفلسفي ګام دامريکايي استرونوت ارمسترونګ په شان دی، چې دنړی لومړي انسان په توګه د يولي (جولايي) مياشتي په يوويشتمه نيټه ۱۹۶۹ ع کال د سپوږمی په سطحه پښه کيښودله . په بله وينا دنيل ارمسټرونګ استرونوت لاندي شعارسره ورته مانالري

Neil Armstrong betrat am 21. Juli 1969 um 02:56:20 Uhr (UTC) als erster Mensch die Mondoberfläche :
That's one small step for a man, one giant step formankind

ژباړه : ديوه انسان لپاره يوکوچنی ګام دی خود بشر لپاره يوډيرلوي ګام دی
هغه مهال چي...

**نه فرعون اونه موسی و ، نه مريم و،نه عيســـی و**
**نه زردشت نه اوستـــا و،نه کـــوروش اونه دارا و**
**نه بودا، اونه برهـــما و، نه کنشک نه اشوکـــا و**
**نه پيرالا تـــری تـــونا و،نه د بلخ پاچـــا يـــمـــا و**
**پښتانه ځواک د آريانا و، سترکتاب هم رګ ويدا وو**

مؤخذ: غوث خيبري ،پښتانه دبرهما،زردښت ،بوداواسلام په پيرونوکي

داروابښاد ستوري کورنی سره ملاقات:
په ۱۹۶۰ زکال دژمي په موسم کې چې زه هغه مهال درحمن باباليسي په دوولسم ټولګي کي وم ددوه نورومل‌ګرو هريو اروابښادپياوګل صديقی اوجمال الدين د کبيرستوری ميلمانه شوواودکونړخواته موحرکت وکړ. هلته مود ستوري په کورکي يوه اونۍ په خوشحالی خندا، ميلمستياو او چرچو شپي او ورځی صباکولي .
زموږ داستقبال لپاره د ډاکتر ستوري ټول کلی اوپه سرکي يې مور راوتلي وه. موږپه ډيره مينه اوستړي مه شئ ونازول شوو.
د کبيرستوري مور ډيره هوښياره ،ميلمه پاله ، مهربانه او زړه وره ميرمن وه چي پراخ ولسي اوقومي علم خدای ورکړی وو.موږته يي دزامنوخطاب وکړاوډيره خوشحاله وه چي کبيرداسي وفادارملګري لري چي په يوه عسکري جيپ کي دجلال آبادڅخه کونړته راغلي دي .
دويلووړده چي زماپلارپه هغه وخت دليوامشرپه صفت په جلال ابادکي عسکري دنده درلوده اويوه ليواعسکردهغه ترقوماندي لاندي وو. يوه بله عسکري ليواپه اسمارکي ځای پرځای شوې وه . همدارنګه دپياوګل صديقي کاکاپه درنټه کي ټيکه وهلي وه اوتعمارتي کارونه يې کول . زمادبل هم ټولګی جمال الدين وروړپه جلال آبادکي مديرمعارف مقررشوی وو.لنډه داچي موږهريوپه جلال آبادکي هم ښه تود ژمی تيرکړ.
موږغوښتل چې دکونړاونورستان ښايسته غرونه ووينو اوهلته ځوورځې رخصتي تيره کړو. دکبير ستوري فکرکوم يومشرورورهم موږ وپيژاندچې حقوق پوه وه اوخورازيات معلومات يې درلودل .
د ستوري په کورکي به هره ورځ پسونه حلاليدل،کبابونه جاري وو، دکونړقيمتی وريژی پلونه راروان وو.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

دبیګاله خوابه وطنی دغره سندرې اوموزیک چلان وو. هوا یې ملایمه وه کور یې دسرک څخه ډیرلوړ د غرونوپه منځ کې موقعیت درلود.
ښایسته ونې هرې خوا لیدل کیدلې کټ مټ لکه د سویزغرونه .
دسهارله خوابه پراټې ،شیرچای ،کوچ مربع ټېکله یا غټ غټ پاستې په دسترخوان پراته وو. سړی به هک پک حیران ووچې اول کوم شی وخورې . هرځل ادې جانې ټینګارکولو ډوډی وخورئ ! داخودستاسوخپل کوردی قسمونه به کیدل همداسې نوردرواخله
یوه ټوله ورځ دخاص کونړخواته لاړلواوهلته هم داروابنادخپلوان ووچې مور.ته یې زبردسته میلمستیاراکړه. ګمان کوم دخپلوانونوم یې انور وو. هلته مودکونړسیندپه غاړه ډوډی وخوړله اوپه یوه کشتی کې ددریاب بلې خواته ولاړاوبیرته راغلو
مور. دومره خوشحاله ووچې زړه موبیرته نه ښه کیده چې راشو خو زما پلار تاکید وکړ چې هلته د ډیورنډ پوله نږدې ده، خدای مه کړه څه پیښه وه نه شي
وروسته له یوې اونۍ مور.ټول بیرته جلال ابادته راغلو. دخدای په امانی په ترځ یوځل بیاټول کلی واړه زاړه ځوانان اوخامخازمور.ټولوګرانه آدې راغلی وه چې په دې موده کې ډیرسره بلدشوي وواودزامنوپه حیث ومنل شوو.مور.ته ډیرویاړووچې یوه داسې غیرتي مهربانه اومیلمه پاله کلکه پښتنه او درهبری ورمیرمن سره معرفي شوو. خدای په امانې سخته تمامه شوه داځکه چې ادې ژړل اوورسره مور.هم په ژړاپیل وکړ. خو دکبیرجان کاکا کلک شواوویل به یې تاسې خوبیاهم راځی ولې ژاړی اوس خوموداخپل کوردی اوداسې نور...
زمور. درې واړو لپاره یوه داسې مینه، میلمستیا،قدر ،عزت ناهیریدونکې خاطره په ژوندکې پاتې شوه الله ج دې هغوی ټول وبښې یادونه یې تل تازه ، اروا یې ښاده!

لیکوال: نظرمحمدسلطانزی ځدراڼ
جرمني هیواد، د مارچ څلورمه، ۲۰۲۴ م کال


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مور سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راللیږلو مخکې په ځیر و لولـئ